ددغه ټرون په اساس د بنځو په مقابل کې توپیر په دې مانا دی چې بنځې د ځینو امتیازونو څخه بوازې په دې وجه محرومیږی چې ځکه دوی د جنس په لحاظ بنځې دی ددوی په مخکې خنډونه او محدویتونه اینبودل کیږی تر څو د دوی حقوق تلف شی او په قانون کې د غیر فعاله غړو په توګه وړته وکتل شی په داسې حال کې چې دوی باید د خپلو حقوقو څخه خوند واخلی او بیله دې چې د دوی مدنی حالت په نظر کې ونیول شی د ژوند په ټولو برخو کې د نارینه وو سره مساوی حقوق او د بشر د حقوقو او سیاسي، اقتصادی، ټولنیزو، کلتوری، مدنی او نورو برخو کې بشپړه ازادی ولری.

دوهمه ماده:

غړی هیوادونه د بنځو په مقابل کې هر ډول توپیر په هر شکل او بڼه چې وی غندی او په دې باندې موافقه کوی چې ډیر ژر بیله کوم ځنډه داسې اجراآت تر لاس لاندې ونیسی چې د بنځو په مقابل کې هر ډول توپیر د مینځه یوسی او ددې کار د پاره به دغه کړنې سرته ورسوی:

الف: ددې د پاره چې د بنځو او نارینه وو مساوی حقوق په فعاله توګه مجسم کړی نو لازم دی چې پخپل اساسی قانون او ټولو نورو قوانینو کې په ورځنۍ ډول دغه اصل داسې ځای

کړې چې د هغه له مخې په قانونی توګه دغه اصول په تیوري او عمل کې تر سره او پاڼ حاصل شي.

ب: داسې مناسب قوانین او اصول را مینځ ته شي چې د هغه په وسیله دا توان حاصل شي چې د بنځو په مقابل کې د هر ډول توپیر مخه ونیول شي او هم توپیر غیر قانوني اعلان کړل شي.

ج: داسې قوانین را منیځ ته کول چې د نارینه وو سره د بنځو د مساوي حقوقو ملاتړ او ساتنه وکړي او دغه وسایل را کړي چې په ملي سطحه باندې په ټولو سازمانونو او ملي انستیتوتونو او نورو ټولنو کې د بنځو ملاتړ وکړي او د دوي په مقابل کې هر ډول توپیر له مینځه یوسي.

د: د بنځو په مقابل کې د هر ډول توپیر غوښتنې مخنیوی کول او ټولنیزې واکمنې او ټوله نور سازمانونه دغه ټکي ته متوجه کول چې دوي هم مکلف دي دغه اصل ته غاړه کیږدي.

ه: ټول هغه تدابیر په نظر کې نیول چې د بنځو په مقابل کې توپیر د مینځه یوسي او هیڅوک یا کومه کارخانه او یا سازمان د بنځو په مقابل کې د توپیر کولو حق نلري.

ف: داسې تدابیر او جراآت تر لاس لاندې نیول چې د ټولو هغو قوانینو، جاري قانون، عنعنو او دودونو ته بدلون ورکړي کوم چې هغوي د بنځو په مقابل کې توپیر کوي.

ژ: د ټولو هغه ملي قضائي سیستمو نو غیري قانوني کول کوم چې هغوي د بنځو په مقابل کې د توپیر څخه کار اخلي.

درېیمه ماده:

غړې دولتونه په ټولو برخو او په خاصه توګه په سیاسي، ټولینز، او فرهنګي برخو کې باید داسې اجراآت او تدبیرونه ونیسي چې هغه په قانوني ډول د بنځو د پر مختګ زمینه برابره کړي او دغه ضمانت وکړي چې بنځې د خپل بشري حقوقو څخه ګټه ټرلاسه کړي او په هره برخه کې د نارینه وو سره مساوي ازادي او مساوات ولري او د خپلو حقوقو څخه خوند واخلي.

څلورمه ماده:

۱- غړې هیوادونو چې ځینې خاص موقتي اجراآت ټرلاس لاندې نیولې دي ټرڅو د بنځو او نارینه وو د مساوي حقوقو بهیر چګړندی کړي لکه په دغه ټرون کې چې هغه تعریف شوی دی، داسې باید استدلال نشي چې د هغه په وسیله نا مساوات راځي او یا جلا ستانداړد په نظر کې نیول شوی دی، دا ډول موقتي اجراآت به هغه وخت چې خپل هدف ته ورسیږي او مساوات مینځ ته راشي نو بیا به دغه شان اجراآتو ته به خاتمه ورکول کیږي.

۲- غړي هیوادونه هغه خاص اجراآت چې بنځو ته د میندوړي او زېږولو په وخت کې کوم خاص امتیازونه ورکوي او په دغه ټرون کې تعریف شوي دي باید د تبعیض په مانا باندې تفسیر نشي، دغه ټرون په داسې حالتونو کې د میندو ملاتړ کوي.

پنځمه ماده:

غړې هیوادونه ددغو اجراآتو ژمنه کوي:

الف: هغه ټولنیز فرهنګ او عملونو ته بدلون ورکول کوم چې د بنځو په مقابل کې د ټوپیر نه کار واخلي او ټوله هغه دو دونه، رسمونه او رواجونه د مینځه وړل کوم چې ددغه مفکورې پر اساس راغلي دي چې یو جنس (نر) دې تر بل جنس (بنځه) لوړوي او یادي کښته وي، او یا دې عام نظر د بنځې او یا نارینه په مقابل کې توپیري بڼه ولري.

ب: باید ویساو او سو چې کورنۍ بنسټونیز پروګرام ولري او په خاص ډول د میندوار توب او اولاد زېږولو بهیر باید په ټولنیزو اجراآتو کې شامل وي او پلرونه په دې باندې پوه شي چې د اولاد زېږول د دواړو خواو مسولیت یو شان وي او مور او پلار په کډه سره د اولاد روزلو کار پرمخ بیائي او د دواړو پلوو هڅه دا وي چې له هر څه نه د کوچنیانو د بنې روزنې بهیر د لومړیتوب حق ولري.

شپږمه ماده:

غړي هیوادونه باید داسې اجراآت تر لاس لاندې ونیسي چې د بنځو قاچاق (خرڅول) غیر قانوني کړل شي او په کلکه د بنځو، څخه د جنسي ګټو اخیستلو معامله (د پیسو په مقابل کې د بنځو سره یو ځای کیدل) بیخي د مینځه یوسي.

اومه ماده:

غړي هیوادونه داسې اجراآت تر لاس لاندې نیسي چې د هغه په وسیله د بنځو په مقابل کې د هر ډول توپیر مخه ونیول شي، او په سیاسي او ټولنیز ژوند کې د نارینه وو سره مساوي وي، او په خاص ډول باید دغه ضمانت وکړي چې د ژوند په ټولو برخو کې بنځې د نارینه وو پشان مساوي حقوق ولري او باید:

الف: چې وکړای شي په ټولو ټاکنو ټول پوښتنو (ریفرانډمو) کې برخه واخلي او هم وکړای شي چې ټولو څوکیو (مقام) ته ځانونه وټاکي.

ب: چې وکړای شي د دولت د شکل او پالیسي (کړنلارې) په باب انزاد نظر ورکړي او هم وکړای شي چې په دولت کې هر ډول مقام (څوکۍ) د خپل لیاقت په لحاظ ونیسي او د دولت په عمومي کړنو کې فعاله ونډه واخلي.

ج: چې وکړای شي په غیړي دولتي سازمانونو کې کډون وکړي او د هیواد او دولت په ټولو سیاسي او ټولنیزو برخو کې د کډون حق لري او برخه واخلي.

اتمه ماده:

غړي دولتونه باید داسي مناسب اجراآت ترلاسه کاندي ونیسي چې د هغه په وسیله سره بنځو ته دا زمینه برابره شي چې د نارینه وو پشان د دولت د هر مقام نمایندګي وکړلای شي او هم په نړیواله کچه باندې بنځې وکړلای شي چې ددغو سازمانونو (نړیوال سازمانونو) غړي شي او یا د هغوی نمایندګي وکړي.

نهمه ماده:

۱: غړي دولتونه بنځو ته دا حق ورکوي چې د نارینه وو پشان کولای شي خپل ملي هویت ولري او یا هم هغه ته بدلون ورکاندي. او په خاص ډول دوی ته باید دغه ډاډ ورکړي چې د بهرنۍ کس سره ددې واده نشي کولای دا د ملي هویت څخه محرومه کاندي، هیڅوک پر دې زور نشي راوستلای چې باید له واده نه وروسته خپل هویت ته بدلون ورکړي او یا هم ځان د هغه ملي هویت تابع کړي چې ددې میړه په هغه پوري اړه لري.

۲: غړي دولتونه ښځو ته د نارینه وو پشان د مساوی ملیت وړکولو حق وړکوی او دغه حق ددوی د کوچنیانو په هکله هم محترم کښی.

لسمه ماده:

غړي دولتونه مناسب اجراآت ټر لاس لاندی نیسی او د هغه په وسیله ښځی ډاډ منی کوی چی د ښوونی په برخه کی دوی د نارینه وو پشان مساوی حقوق لری او په خاص ډول دوی ته په دغه برخه کی د نارینه او ښځی د حقوقو مراعاتول ژمنه کوی.

الف: په ښاری یا هم کلیوالو سیمو کی دا ژمینه برابرول چی ښځی وکړای شی د ښوونی په ټولو برخو کی لکه مسلکی یا حرفوی او نورو کی هر ډول لوست ته دوام ورکی او وکولای شی په ټولو برخو کی خپل بری لیك (دیپلوم) ټر لاسه کاندی د ټولنی دغه ډول مساوات باید په ټولو ښوونیزو څانګو کی لکه وړکتونونو، لومړی ښوونځیو، متوسط او مسلکی ښونځیو، تخنیکی او لوړو زده کړو ښوونځیو او په همدې ډول په هر مسلکی او حرفوی زده کړو کی.

د ښونی و عین قبول شوی نصاب، او ازمویني ته لاس رسنه، د یو شان با کیفیته او تکړه ښوونکو څخه زده کړه کول او په ښوونځیو کی د عالی سامان آلاتو څخه ګټه اخیستل او په یو شان ستاندرد باندی د ښوونځی د بهیر پرمخ بیول.

ج: د ستریو ټایپ Stereotype یا عمومی ساده قضاوت (د مثال په ډول دغه ستریو ټایپ دی چی که مونږ ووایو چی نارینه ټر ښځو لایقه دی .ژ.) د مینځه وړل او په دی باندی باور پیدا کول چی د ښوونی په ټولو شکلونو، برخو او سطحو کی ښځی د نارینه پشان استعداد لری او باید دا

زمینه ورته برابره کړل شی چی د یو شان ښوونی او روزنی د میتود او محیط څخه ګټه ټر لاسه کړی او یو شان د کتابونو لوستل ښوونیز پروګرامونه او د ښونی میتود باندی تطبیق شی.

د: هغه چانسونه (سکالرشیپونو) چی راځی په مساوی ډول ښځو ته ورکړل شی او دوی د هغه نه ګټه ټر لاسه کړی.

هـ: ښځو ته دا زمینه برابره کړل شی چی د ښوونی یو شان پروګرام څخه ګټه ټر لاسه کړی او د ښوونی د دوام لاس رسنه ولری، دوی باید د بیسوادی د ناروغی څخه ژر خلاصی کړل شی او په دغه هکله د سواداو زده کړی بیرنی پروګرامونه ورته جوړ کړل شی او هغه واټن چی د ښوونی د زده کړی په برخه کی د نړو او ښځو ټر مینځ شته ژر سره ټرلی کړی.

ف: د نجونو او ښځو د ښوونځی ریښولو شمیر را ټیټول او هم داسی پرګرامونه ترتیبول چی په هغه سره هغه ښځو چی ښوونځی پری ایښی ده بیرته وګولای شی ښوونځی ته ولاړی شی.

ژ: ښځو ته د ناڅرینه وو پشان په بدنی لوبو او سپورټونو کی د ګډون حق ورکول او ددغه ګډون زمینه برابرول.

ک: وداسی مخصوصو ښوونی او معلوماتو ته لاس رسنه چی د هغه په وسیله ښځی وکړای شی د کور په هکله د روغتیا په هکله، د کوچنی زیږولو په هکله او په عمومی توګه د کورنی پلان په هکله ښوونه او معلومات ټر لاسه کړی.

یوولسمه ماده:

غړی دولتونه باید لازم اجراآت په پام کې ونیسي تر څو د کار په برخه کې بنځو ته اساتیاوی برابری کړي او د کار په سیمه کې د بنځو او نارینه وو تر مینځ مساوات په حتمي ډول ډاډمن کړي او د توپیر پر ضد هڅې وکړي او هغه له ړیښتو څخه وباسي او په خاص ډول:

الف: بنځې د کار کولو حق لري او د یوه بشر په توګه هیڅوک د دوی نه دغه حق نشي اخیستلای.

ب: د نرخ پشان دوی ته د کار کولو زمینه برابرول او هغه معیار چې نارینه ووته په نظر کې نیول شوی دی، او هغه ډول کار چې نارینه وو ته وړکول کیږي بنځې هم ددغه شان کار کولو حق لري، او څوک ترې ستړکې نشي پټولای.

ج: دا د بنځو حق دی چې په انډاده توګه ځانته شغل او کسب و تاکي او هر چیرې چې مناسب وبولي کار وکړي، د کار د پرمختیا زمینه وړته برابره شي د هغې د کار امنیت او د کار کتې وساتلی شي او د خپل خدمت په مقابل کې پوره حق وړته وړکړل شي، بنځو ته د مسلك او شغل په برخه کې بنسټونه وړکړل شي چې دا بهیر د لومړي څخه بیاد لوړو نړده کړو پورې دوام کولای شي.

د: بنځو ته د نارینه وو سره د مساوي کار په مقابل کې مساوي معاش او نور ټول هغه امتیازونه وړکړل شي چې نارینه ووته وړکول کیږي، بنه وضعه وړسره وشي

د ښځو احترام وساتل شی او د نارینه وو پشان په کار کی د پر مختګ د پاره مساوی زمینه ورته برابره کړل شی.

هـ: ښځو ته د ټولنیزو اساتیاو لکه تقاعد، تقاعدی، د بیکاری په وخت کی مرستی، د ناروغی او معلولیت په دوران کی مرستی، د زړېتیا د سن په وخت کی مرستی برابری کړل شی او کله چی نوری ستونزی ولری نو باید د معاش سره رخصتی ورته ورکړل شی.

ف: د کار په دوران کی د روغتیائی او امنیتی حالت د ساتلو حق خصوصاً کله چی میندوارہ وی داسی کار ورکړل شی چی ددې روغتیا او د کوچنی سلامتیاته زیانمن نه وی.

۲: د واده شوو ښځو په مقابل کی د توپیر د مخنیوی د پاره او یا هم په هغه وخت کی چی ښځی میندوارہ وی او په مقابل کی ئی د توپیرنه کار وانه خیستل شی نو غړی دولتونه دنده لری چی لاندی اجراآت تر سره کړی:

الف: هیڅ ډول بندیزونه ته اجازه نه ورکول کیږی او یا کوم محدودیت ته اجازه نشته چی ولی ښځه میندوارہ شوی ده او دا جازه نه ورکول کیږی چی په دی خاطر د کار په برطرفه کړل شی، د اولاد زیږولو په وخت کی ښځی د معاش لرونکی رخصیتو څخه ګټی تر لاسه کوی او هم د واده کولو په خاطر هیڅوک نشی کولای چی ددې په مقابل کی د توپیرنه کار واخلی او یا هم هغه د کارنه لیری کړی.

ب: د اولاد ړاوړلو د معاش لرونکی ړخصتیو څخه ټر څټی اخیستلو وړوسته بنځی کولای شی چی خپل پخوانی کار ته ولاړی شی او هیڅوك حق نلری چی ددې مقام بل چاته وړکی او یا دا د خپل مقام څخه لیری کاندی.

ج: ددی د پاړه چی اولاد لرونکی مور او پلار وکړلای شی هم کورنی دندی پر مخ بونړی او هم د هغه ټر څنګه ټولنیز کار ته دوام وړکړی نو باید داسی ټولینړی اساتیاوی دوی ته د کار فرما دا دارو لخوا برابړی شی چی د یوې خوا څخه دوی خپلی دندی سړته وړسوی او د بل پلوه نه دوی خپل کوچنی و ړوزلای شی، چی په دی لاړه کی د کوچنیانو ساتنی موسسی او وړکتونونه ښه مړسته کولای شی.

د: میندوارو بنځوته باید داسی د کار زمینه برابړه کړل شی چی دا وکولای شی داسی کار وکړی چی ددې ړوغتیا او د کوچنی سلامتیا ته کوم ضړړنه ړسوی.

۳: په دې هکله قانونی حمایه باید د زمانی په اوږدوکی بیابیا تکرار شی او د ساینس او تکنالوژی د پر مختیا سړه هغه باید نوی کړل شی، او د هغی نه داسی ګټی ټر لاسه شی چی د بنځو فزیکی ساتنی ته احترام شوی وی.

دولسمه ماده:

۱: غړی دولتونه ټول هغه اجراآت ټر لاس لاندی نیسی چی د بنځو په مقابل کی توپیرله منځه یوسی او د ړوغتیا په برخه کی بنځو ته د نارینه وو پشان بیمه برابړه کړی او په دغه برخه کی باید د کورنی پلان پروګرام شامل وی.

۲: بیله دی چې د لومړی مادې په امتیازاتو کې کوم بدلون راشي د هغه تر څنګه غړي هیوادونه باید داد ځان مکلفیت وګڼي چې بنځو ته د میندوار توب په دوران کې، د زېږولو په موده کې او د زېږولو څخه وروسته موده کې موت خدمتونه وکړي او تر هغه وخته پورې چې میندې خپلې شیدې کوچنیانو ته ورکوی دولت باید هغوی ته مکلفه غذا برابره کړي، او دغه د غذا پروګرام د میندوار توب له وخته پیل کیږي.

دیارلسمه ماده:

غړي دولتونه مکلفیت لري چې داسې اجراآت وکړي چې د هغه له مخې د بنځو په مقابل کې ټول ټوپیرونه له مینځه وړلو شي او په اقتصادي او ټولنیزو برخو کې دا ډاډ ورکړي چې بنځې د نارینه وو سره مساوي حقوق لري او په خاص ډول په د غوښتو کې:

الف: د کورنۍ څخه د ګټو اخیستلو حقوق. (په ځینو هیوادونو کې هغه کورنۍ چې ډیر اولاد لري دولتونه ډیري مرستې ورسره کوي او د مالیې څخه معاف ګڼل کیږي. م)

ب: د بانکونو څخه د پور کولو حق، په پور د کور رانیولو حق او نور اقتصادي اعتبارونه تر لاسه کولو حقوق.

ج: په سپورټونو (لوبو) کې د ګډون حقوق د استراحت او تفریح ځایونو څخه د ګټو اخیستلو حق او په فرهنګي چارو کې د ګډون کولو حق.

څوارلسمه ماده:

غړي هیوادونه ددغه ټرون په اساس مکلفیت لري چې د کلیو او باندې د بنځو د ژوند حالت ورښه کړي او هغه ستونزې چې هغوی ورسره مخامخ دي له مینځه یوسي، د

دوی زړاړ او سخت کار ته باید په درنه سر ټکه وکتل شی خصوصاً په هغو برخو کی چی د پیسو سره مستقیمی اړیکی نلری (لکه د کور کارونه، پاکی پرېول پخلی او نور. ټر) او هڅه وکړی چی د کلیو د ښځو د پراختیا زمینه برابره کاندی او په خاص ډول د لاندینی حقوقو ډاډ ورکړی:

الف: د پراختیائی پلانونو په اجرائیوی برخو کی د ښځو ګډون کول، چی دا باید په ټولو برخو کی وی.

ب: ړوغتیائی بیمو او اساتیاو ته لاس رسنه، او د کورنی پلانونو په هکله مشوره ته لاس رسنه او ونوړو معلوماتو ته زمینه برابرول.

ج: د ټولنیزو مرستو د ډګر څخه په مستقیمه توګه ګټه اخیستل.

د: ښځی باید هر ډول ښوونه او روزنه تر لاسه کړی دا ښوونی کیدای شی چی رسمی وی او یا هم غیر رسمی د دوی د سواد سطحه باید لوړه کړل شی او د هغه تر څنګه باید داسی پروګرامونه جوړ کړل شی چی د ښځو د تخنیکی مهارت د لوړتیا سبب وګرځی.

هـ: داسی پر ځان باندی متکی ګروپونه او کوپراتیفونه جوړ کړی چی هغوی وکولای شی په مساویانه توګه د اقتصادی مرستو څخه ګټه تر لاسه کړی او دا زمینه ورته برابره شی چی د کار فرما لخوا او یا هم د خپل کار لخوا مرستی ورته برابری کړل شی.

ف: په ټولو ټولنیزو فعالیتونو کی ګډون کول.

څ: د کړهنې په هکله پوړونو او اعتبارونو ته لاس رسنه، د مارکیټونو د اساتیاوو څخه کټه تر لاسه کول د مناسبو تکنالوژیکي الاتو څخه کټه تر لاسه کول او په دې برخه کې د دوی سره د نارینه وو پشان مساوي وضعیت (مناسب وضعیت) کول د محکمو په ریفورم کې کډون ورکول او د بیرته میشته کیدو په پلان کې کډون.

ك: د خپل ځروند څخه خوند اخیستل او په خاصه توګه هغه څه چې په کور کې دي لکه پاك کور، برېښنا، پاکي اوبه د ترانسپورټي وسیلو برابري او د مخابري او ارتباط د وسایلو لرل.

پنځلسمه ماده:

۱: غړي دولتونه باید موافقه وکړي چې د قانون په وړاندې بنځې او نارینه یو شانتي حقوق لري.

۲: غړي دولتونه باید موافقه وکړي چې په مدني موضوعګانو کې بنځې د نارینه وو په ځیر د یو شانې قانوني اجراآتو او وخت څخه کټه تر لاسه کړي. په خاصه توګه بنځو ته د نارینه وو پشان مساوي حقوق ورکول کیږي چې پخپل سر قرار دادونه وکړي خپل جایدادونه اداره کاندې او په قضائي محکمو او څارنوالیو کې د نارینه وو پشان مساوي حقوق او لاس رسنه ولري.

۳: غړي دولتونه باید موافقه وکړي چې ټول هغه قرار دادونه او یا هغه شخصي پریکړې چې هغه ته قانوني بڼه هم ورکړل شوې وي که د بنځو په هکله کومې ستونزې را مینځ ته کوي او یا په دې برخه کې د بنځو په هکله خندونه ځړه دي ددغه ټرون په وسیله هغه نیږي قانوني ډ د اجراوړندي.

٤: غړی دولتونه باید موافقه وکړی چی د قانونی په وړاندی بنځی او نارینه یو شانتی حقوق لری په خاص ډول په هیواد کی د اوسیدلو او لیږدیدلو په هکله بنځی مساوی حقوق لری او انزادي دي چی چیرته ولاړی شی، چیرته میشته شی او په کوم کور او یا څنګه کور کی واوسیږی.

شپاړسمه ماده:

١: غړي دولتونه باید ټول هغه اجراآت تر لاس ونیسی کوم چی د واده کولو په هکله د بنځو په مقابل کی توپیرونه له منځه یوسی او په کورنیو اړیکو کی د توپیرنه ډډه وشی او په لاندی برخو کی د بنځو او نارینه وو تر میان مساوی حقوق برابر کاندی:

الف: د واده کولو په هکله مساوی حقوق ولری.

ب: دا حق ولری چی په انزادانه توګه خپل میړه و ټاکی او پخپله رضا د هغه سره واده وکړلای شی.

ج: په واده کولو کی د نارینه په څیر یو شان مسولیت ولری او که چیری د طلاق موضوع راځی بیاهم د نارینه په څیر حق ولری.

د: د اولاد په مقابل کی د پلار پشانی صلاحیت او مسولیت لرل بیله چی د هغی مدنی حالت په نظر کی ونیول شی، خو کله چی موضوع د دوی د اولادونو په هکله را مینځ ته کیږی، د ټولو موضوعګانو په سر کی د کوچنیانو د ګټو ساتنه لومړیتوب لری.

هـ: د نارینه پشان دغه حق لرل چی څومره اولادونه ونږدیږولای شی او د اولادونو د نږدیږدو تر میان څومره کاله واټن او څنډوی او د میندوار توب په هکله د بنسوونی او معلوماتو ته د لاس رسنی حق، تر څو دا وکړلای شی په دغه هکله د خپلو حقوقو څخه کار واخلی.

ف: د نارینه په څیر دغه مساوی حق او مسولیت لرل چې وکړای شی کوچنیان د اولاد په توګه قبول کړي د هغوی ساتنه وکړي کوچنیان په امانت ډول وساتی او هم په داسې سازمانونو کې ځای ورکړي چې د کوچنیانو د روزنې په هکله ملی او قانونی بڼه ولري، په دغو ټولو حالتونو کې د کوچنیانو ګټې ته لومړیتوب ورکول کیږي.

ژ: د میرمنې او میړه په څیر مساوی حقوق لرل چې کولای شی خپله خپلواکه کورنۍ نوم وټاکی او خپله شغل او کسب وټاکی.

ك: میرمن او میړه د یو شان مالکیت لرلو حق او هغه ته احترام، د هغه د اداری او اجرائیوی امور مسؤلیت د هغه څخه د خوند اخیستلو حق، د مالکیت نه د بخښلو حق او نورو ارزښتونو یو شانی حق لري.

١: د واده په هکله د یوی کوچنۍ نجلۍ رضائیت باید قانونی بڼه و نه لري، نو ددی معضلی د لیرې کولو د پاره د واده سن او عمر باید په قانون کې ولیکل شی چې تر هغه کوچنۍ سنه نجلۍ د واده کولو حق نلري او هم باید د واده کولو پاڼه په رسمی څانګو کې باید ثبت شی، چې د هغه په وسیله د سرغړونو مخه ونیوله شی.

اولسمه ماده:

١: ددې د پاره چې ددغه ټرون هدف په ښه صورت تر لاسه شی نو داوپټیل شوه چې د بنځو په وړاندی دی د توپیر لیرې کولو یوه کمیټه (چې پس له دې به کمیټه ورته وویله شی) جوړه شی، چې د اجرا د وخت څخه به د ١٨ ټرون په نوم یاد شی او کله چې دا ټرون قبول کړل شونو په دغه ټرون کې به د پنځه دیرشم دولت په څیر و برېښی او په هغه کې به دی

درویشت ۲۳ ډیر تکړه او اخلاقی ماهران چې نامتو وی او په دغه برخه کی مهارت ولری ددغه کنوانسیون لخوا و تاکل شی، دغه کسان به د دولتونو د خپلوا تباعو لخوا څخه تاکل کیږی او د هغوی اخلاقی شخصیت او ظرفیت به په نظر کی نیول کیږی او دوی به د دولتونو د جغرافیوی سیمو په لحاظ او د مختلفو مدنی ټولنو او مختلفو قوانینو پر اساس باندی تاکل کیږی

۲: ددغه کمیټی غړي به د پټو تاکنو او رایه ورکولو په وسیله د هغو غړو له جملو څخه تاکل کیږی کوم چی دغی کمیټی ته د دولت لخوا څخه کاندید شویدی. هر غړی دولت کولای شی چی د خپلو اتباعو څخه د یوه نفر نوم د کاندید په توګه وتاکی.

۳: دغه لومړی تاکنی به شپږ میاشتی وروسته له هغه نه کیږی کوم چی دغه کنوانسیون د اجراوړ ځی. د ملګرو ملتونو عمومی منشی به دری میاشتی له تاکنو څخه تر مخه غړی دولتونو ته لیکونه لیږی او په هغه کی به د غړو دولتونو څخه غواړی چی خپل د کاندید نوم په دوو میاشتو کی د ملګرو ملتونو پر پته باندی را ولیږی. د ملګرو ملتونو عمومی منشی به د الف و با په ترتیب ددغو کسانو د نومونو لست ترتیبوی کوم چی د غړو دولتونو څخه ورته را رسیدلی دی او بیا به دغه ترتیب شوی لست ټپرته غړي دولتونو ته لیږی.

٤: ددغه کاندیدانو د تاکنی ډیر چی د کمیټ د پاڼه کیږی د غړو هیوادونو په ټرون کی د ملګرو ملتونو د عمومی منشی تر څارنی لاندی د ملګرو ملتونو په ودانی کی کیږی. په دغه غونډه کی چی د غړي هیوادو څه نا څه د درو څخه به ئی دوي برخی

کډون کوی هغه کسان به کمیټې ته و ټاکل شی چی ټرنوړو ئی ډیری رائې ټر لاسه کړې وی او بیا به په مطلق ډول د غړی هیوادونو لخوا هم دوی ټاکل کیږی.

٥: د کمیټې غړی د څلور کلونو د پاره ټاکل کیږی. د ټاکلو غړو له جملې څخه د ۹ کسانو دوړه د دوو کلونو څخه وروسته سرته رسیږی. د لومړی ټاکنو د بهیر نه وروسته ډیر ژر ددغو ۹ تنو نومونه د کمیټې د رئیس لخوا څخه دوی ته ویل کیږی.

٦: د کمیټې د پنځو نورو کسانو ټاکل به ددغه مادی د ۱-۲-۳ او څلورم پاراګراف په مطابق هغه وخت کیږی چی دغه پنځه دیرشم ټرون سرته رسیدلی وی، او نړیوال حیثیت ئی پیدا کړی وی. له دغه کسانو څخه بیا د دوو غړو د ټاکنی دوړه ددوه کلونو وروسته سرته رسیږی، ددغو دوو کسانو نومونه هم د کمیټې د رئیس لخوا څخه هغوی ته اعلانیږی.

۷: هغه مقامونه چی خالیونه ئی خالی پاتیږی د هغوی د ډکولو د پاره هغه غړي هیوادونه چی د هغوی د ماهرانو دوړه پای ته رسیدلی ده ددوی پر خای باندی د نوی کسانو نومونه دوی ته معرفی کولای شی او بیا نو د کمیټې غړی کولای شی ددغو کسانو شمولیت په کمیټه کی اعلان کړی.

۸: د کمیټې غړي پس له هغه نه چی د ملاکړو ملتونو د سازمان لخوا نه قبول شوه، د هغوی د معاش او اجورې برخه د ملاکړو ملتونو د منابعو لخوا څخه ورکول کیږی چی د هغوی د معاش اندازه د هغه مسولیتونو په مقابل کی ټاکل کیږی چی دغه کمیټی ته سپارل شوی ده چی څومره مهمی دندی پر مخ وړی.

۹: د اوسنۍ کنوانسیون د پریکړې سره سم دا د مکرو ملتونو د عمومي منشي دنده ده چې د کمیټې د دندو د اجرا د پاره ټول هغه لوازم او سامان چې وړته ضروري وبینې دوی ته برابر کړي او نورې اساتیاوې چې ئې د لاسه پوره وي دوی ته اماده کړي.

اتلسمه ماده:

غړي دولتونه ددغه کنوانسیون د نښه پر مخ بیولو په هکله ددغه کمیټې د لارې څخه د ملګرو ملتونو و عمومي منشي ته خپل اجرائیوی، قانونی او قضائي اجراآتو هغه راپور چې دوی جوړ کړي دی وړاندې کوي او ددغه کنوانسیون د نښه پراختیا د پاره باید دا شیان په نظر کې ونیسي.

الف: غړي دولتونه ددغه کنوانسیون د اجراد قانونی کیدو څخه یو کال وروسته خپل ریوټ جوړوي او وړاندې کوي.

ب: اوپس له هغه نه په هر و څلورو کلونو کې راپور جوړوي او یا هم د کمیټې د غوښتنې سره سم کله چې هغه وغواړي.

۱: په دغه ریوټونو کې باید ټول هغه ستونزې او عوامل شامل کړل شي کوم چې د کنوانسیون د مکلفیتونو پر اجراآتو باندې ئې اثر کړیدی.

نولسمه ماده:

۱: دغه کمیټه په خپل پروسیجر (د کار سیستم) او رول پخپله جوړوي.

۲: کمیټه به خپل کارمندان پخپله د دوو کلونو د پاره ټاکي.

شلمه ماده:

۱: ددغه کنوانسیون د -۱۸- مادې سره سم په هر کال کې کمیټه په نوړمال ډول د دوه اونیو په اوږدوکې خپله غونډه کوي او را رسیدلې را پورونه څیړي.

۲: دغه غونډه به د ملکرو ملتونو د سازمان په مقر (ودانۍ) کې جوړیږي او یا به هم بل مناسب ځای چې د کمیټې له خوا څخه ئې وړاندیز شوی وي.

یویشتمه ماده:

۱: کمیټه به د خپل اقتصادي او ټولنیز مشاورتي چارو په برخه کې د ملکرو ملتونو عمومي غونډې ته وړاندې کوي او هغوی به د خپلو کړنو او وړاندیزونو څخه خبروي، او هم به د هغه راپورونو په وسیله چې د غړو دولتونو څخه ئې ترلاسه کړې دي خپلې توصیې او وړاندیزونه وړاندې کوي. په دغه وړاندیزونو او توصیو کې کمیټه ټول هغه معلومات چې ئې د غړو دولتونو څخه ترلاسه کوي هم وړاندې کوي.

۲: د ملکرو ملتونو عمومي منشي را غلې پوښتنې چې کمیټې را ټول کړې دي د بنځو د مقام کمیسیون ته برود کاستوي (لیږدوي)

دوه ویشتمه ماده:

هغه مخصوصو سازمانونو او اجنسیو ته چې د بنځو په برخه کې کار کوي ددغه کنوانسیون په وسیله حق لري چې د بنځو په هکله خپل فعالیتونه وکړي او خپل د فعالیتونو اجراآت و کمیټې ته وړاندې کړي او کمیټه کولای شي چې دغه ډول سازمانونه و کار او فعالیتونو تشویق کړي او ددوی څخه پوښتنې ترلاسه کړي.

درویشتمه ماده:

هیڅ شی نشی کولای چی ددغه کنوانسیون د تثبیت شوی اصولو او کټو مخ ونیسی کوم چی د بنځو او نارینه وو د مساوی حقوقو په هکله شوی دی، چی هغه:

الف: د غړی دولت په قانون کی او یا

ب: یو بل داسی نړیوال کنوانسیون، پیمان یا موافقه چی پر دولت باندی قبوله کړل شوی وی

څلورم ویشتمه ماده:

غړي دولتونه دغه منی چی په ملی سطحه باندی ټول هغه ضروری اجراآت تر لاس لاندی ونیسی کوم چی ددغه کنوانسیون غوښتنی د هغه په وسیله تر سره شی. او هغه حقوق چی په دغه کنوانسیون کی لیکل شوی دی په رسمیت وپژنی.

پنځه ویشتمه ماده

١- اوسنی کنوانسیون به د ټولاسلیك کوونکو دولتونو پر مخ باندی خلاص وی.

٢- د ملګرو ملتونو عمومی منشی ددغه کنوانسیون امانتدار (ساتونکی) دی.

٣- دغه کنوانسیون د تصدیق کولو وړوسته د اجراوړ دی. هر کله چی دغه کنوانسیون تصویب شونو د هغه نه وړوسته د ملګرو ملتونو د عمومی منشی سره اینبودل کیږی.

٤- ددغه کنوانسیون سند د ټولو غړو دولتونو پر مخ باندی خلاص دی، ددغه کنوانسیون ټول سندونه او ضمایم به د ملګرو ملتونو د عمومی منشی سره په امانت کیښودل شی خو هر غړی دولت کولای شی چی هغه ته لاس رسنه ولری، او هم د کنوانسیون د لیکلی سند وړوسته دغه کنوانسیون د اجرا وړ بلل کیږی.

شپږ ویشتمه ماده:

۱- په دغه کنوانسیون به هغه وخت د غړو دولتونو د پاڼه د اجرا وړ ګڼل کیږي چې دغه سند د تسلیمیدو څخه یوه میاشت تیره شوی وي، دغه سند به د شلم تصدیق شوی سند په توګه د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته وړاندې کیږي.

۲- د هر غړي دولت د پاڼه د کنوانسیون د اجرانیټه (د نافذیدو نیټه) هغه وخت دی چې دغه کنوانسیون د تصدیق کولو څخه وروسته د شلم سند په توګه باندې هغه د امانت په ډول وړاندې کړي او یوه میاشت وروسته د کنوانسیون مکلفیتونو و اجراآتو څرمن بلل کیږي.

اته ویشتمه ماده:

۱- کله چې د ملګرو ملتونو عمومي منشي دغه متن ټر لاسه کړ هغه ټولو غړو دولتونه ته وړکوي، دا به هغه سندوی چې ټولو غړو دولتونو تصویب کړیدی.

۲- د کنوانسیون په هکله هیڅ ډول نا سازګاري (اوښه خالي کول) او د هغه سره اختلاف ته اجازه نه ورکول کیږي.

۳- که هر غړي دولت و غواړي چې ددغه کنوانسیون د غړیتوب څخه ووزي او یا د هغه د مکلفیتونو څخه اوښه خالي کړي نو کولای شي چې په لیکلي توګه خپل وړاندیز د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته وړاندې کړي، ددغه وړاندیز نیټه د هغه وخت نه شمیرل کیږي کوم چې لیکلي وړاندیز د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته ورسیږي.

نهه ویشتمه ماده:

۱. که چیرته ددغه کنوانسیون د تفسیر او مانا په لحاظ د دوغړو هیوادونو ټر میان کومه ستونزه پیدا کیږي نو هر یو ددغه دولتونو څخه کولای شي چې خپل وړاندیز د دعوا په

شکل د منځکړېتوب د پاړه وړاندې کړی، که تر شپږو میاشتو خبرو، اترو وروسته بیا هم ددوی دغه ستونزه پای ته و نه رسیده او یوه خواهم د منځکړېتوب په هکله رضائیت نه څرګندوی نو دواړه خواوی به موافقه کوی چی خپل دعوا پانی د مینځکړېتوب د پاړه نړېوالی محکمی ته استوی چی په دی هکله به ددغه محکمی د پرېکړی انتظار باسی.

۲- که هر غړی دولت غواړی چی ددغه مادی دوهم بند قبول نکړی نو کولای شی چی د کنوانسیون د تصویب په وخت کی خپله غوښتنه وړاندی کړی. نو نور غړی دولتونه به د داسی دولت سره د دوهم بند د ژمنی په هکله کوم مکلفیت و نه لری.

۳- که هر غړی دولت و غواړی د دوهم بند په هکله کوم د نظر بدلون ړا ولی نو دوی کولای شی چی په انزادانه توګه باندی خپل د نظر بدلول په لیکلی پانه کی د ملګرو ملتونو عمومی منشی ته وړاندی کړی.

دیرشمه ماده :

دغه کنوانسیون چی په عربی، چینائی، انګریزی، فرانسوی، روسی او هسپانوی ژبو لیکل شوی دی یو شانی اعتبار لری او اصلی نسخی به ئی د ملګرو ملتونو د عمومی منشی سره د امانت په ډول پرتې وی.

د غړو دولتونو په شهادت سره دغه سند تصویب او لاسلیک کړل شو.

د افغانستان د بشر دحقوقو خپلواک
کمیسیون

کمیسیون مستقل حقوق بشر
افغانستان

Afghanistan Independent Human Rights Commission

د بڼځو په وړاندې د ټولو توپیرونو له منځه وړلو تړون

د ۱۹۷۹ دسامبر د ۱۸ نیټې مصوبه

د افغانستان د بشر دحقوقو دخپلواک کمیسیون له خپرونو څخه

دبڼځو دحقوقو دپراختیا څانګه